بسم الله الرحمن الرحيم

WWW.AL-SHIA.ORG

# د مراجع ژوند

## ژباړه: محمدرحيم دراني

## حضرت آيت الله العظمی سيد روح الله موسوي خميني (ره)

**امام خميني له زوکړې د قم تر هجرته**

هغوي د 1320 کال د جمادي الثاني په شلمې نيټې چې د 1281هجري شمسي کال د شهريور د مياشتې 30 نيټې سره سمون خوري (د 1902 هجري شمسي کال د ستمبر د مياشتې په 24نيټه) په خمين ښارکښې چې د ايران د مرکزي صوبې له ښارونو څخه دے، په يوې داسې کورنۍ کښې چې د علم هجرت او جهاد کورنۍ وه او د حضرت زهرا (س) اولاد ؤ، کښې وزيږيد.

هغه د خپلو پلرونو د اخلاقو او کردارو وارث ؤ چې په پيړيو پيړيو يې د خلقو د هدايت او الهي علمونو د زده کړې ذمه واري په غاړه اخستې وه. د امام خمينی پلار بزرگوار مرحوم ايت الله سيد مصطفی موسوي د مرحوم ايت الله العظمی ميرزاي شيرازي (رض) سره په يوه زمانه کښې ؤ وروسته له دې چې څو کاله يې په نجف اشرف کښې ديني علمونه زده کړل او د اجتهاد درجې ته ورسيد نو ايران ته راواپس شو. او په خمين کښې د خلقو هدايت کوونکې ؤ او خلک به د ديني کارونو لپاره هغوي ته ورتلل. په داسې حال کښې چې د روح الله د ولادت لا پينځه کاله نه وو تېرچې طاغوطيانو او د وخت د حکومت لاندې کسانو د هغوي د پلار د حقو وينا گانو ځواب د ټوپک په گولۍ سره ورکړه او د خمين نه د اراک په لورې د تللو په وخت يې شهيد کړ. په دې طريقه امام خميني له وړکوالي د يتيمې غمونو سره اشنا شو او شهادت يې وپيژند. هغۀ د وړکوالي زمانه له خپلې گرانې اومؤمنې مور (بانو هاجر) سره تېره کړه چې هغه خپله هم د علم او د تقوا له خاندان څخه وه او د اروانښاد آيه الله خونساری (د زبدة التصانيف ليکوال) له نمسيو څخه وه. همدارنگ يې له خپلې ترور (صاحبه خانم) سره وخت تېر کړ چې هغه هم يوه

میړنۍ او د حقو لټونکي ښځه وه،. خو د پینځلوسو کالو په عمر کښې د هغوي دوو له وجوده هم محروم شو.

**قم ته هجرت، د تکمیلي درسونو حاصلول او د اسلامي علمونو ښودل**

د آیه الله العظمی حاج شیخ عبد الکریم حایری یزدی رحمة الله علیه قم ته له هجرته وروسته (د 1300 هجری شمسی کال په نوروز کښې،(چې 1340 هجری قمری کال د رجب المرجب میاشتې سره سمون لري) امام خمیني(ره) هم د قم حوزے ته راغلو او په ډېر بیړې سره یې د حوزوي علمونو تکمیلي برخې یې د قم د حوزے استاذانو سره تېرې کړې.

**امـام خمینـی د جنګ او قیام په مورچه کښې**

د خداي په لاره کښې د جهاد او پاڅون شوق د امام خمیني په اعتقادي لیدتوګه، د هغوي په کورني تربیت او سیاسي او اجتماعي شرائطو کښې جرړه لرله. د هغوي جنګ او جهاد د هغوي له ځوانۍ څخه سم شورو شو د امام د علم زیاتیدو سره سره او د ایران سیاسي حالاتو ته په پام سره دا جهاد په بیلا بیلو شکلونو کښې موجود ؤ او ادامه یې درلودله. په 1340او 1341کال کښې د صوبو د انجمنونو او غونډو په جوړلو کښې داسې موقع په لاس راغله چې دوي پکښې خپل رهبریت، پاڅون څرګند کړي. او پدې طریقه د ایران د ملایانو او خلکو پاڅون د 1342کال د خرداد د میاشتې په 15 نیټه په دوو څرګندو خصوصیاتو سره شورو شو یو د امام خمینی (ره) مشروالې او بل د دې پاڅون اسلامي شونه. چې وروسته همدا پاڅون د انقلاب په نامه د نړۍ خلکو وپیژند په 1342 کال کښې چې امام د نوروز د اختر پروګرامونه حرام ګرځولي ؤ، سره سم شورو شو او د فیضیې مدرسې د مظلومانو په وینو رنګین شو. شاه د امریکې د خوښې اصلاحاتو باندې ټینګار کاوه او امام خمیني یې مخې ته راوته او خلک یې له دې خبرې خبرول چې امریکه زمونږ په هیواد کښې دخالت کوي او شاه هم خیانت کوي د 1342کال د فروردین د میاشتې په څوارلسمه آیه الله العظمی حکیم له نجفه په یو تلګراف کښې د قم له علماؤ غوښتنه کړې وه چې ټول په یوځاي نجف ته لاړ شي. او دا وړاندیزد عالمانو د سر د سلامتۍ لپاره وړاندې شوې ؤ. امام خمیني(ره) بې له دې چې د شاه خبرو او زورنو ته څه پام وکړي د آیه الله العظمی حکیم تلګراف ته ځواب ورکړ او دا ټینګار یې پکښې کړې ؤ چې د ټولو عالمانو سره له قمه هجرت او د قم د حوزے خالي کول مصلحت نلري.

امام خمینی په هغه پیغام کښې چې د فیضیې د پیښې د څلویښتمې په ورځ یې ورکړې ؤ او دا یې پکښې ویلي ؤ چې د ایران عالمان او اسلامي هیوادونه او عربي هیوادونه له غاصبانو اسرائیلو سره مخامخ دي، او شاه او اسرائیل یې پکښې محکوم کړې ؤ.

**د پینځلسم خرداد پاڅون**

1342کال د حسنیانو (محرم) میاشت چې د خرداد میاشتې سره یې ځمون خوړه، راورسیده امام خمیني(ره) له دې وخته ډېره ګټه واخسته او خلک یې په دې وخت کښې د شاه په خلاف پاڅون ته چمتو کړل.

امام خمیني(ره) د 1383د خرداد د میاشتې په 13 نیټه چې د 1342 د محرم د میاشت د لسم ورځ وه په ماځیګر یې خپلې تاریخي خبرې چې د 15خرداد د قیام شوور وه، وکړے.

**د امام خمیني له ترکیې څخه عراق ته شړل**

امام خمیني (ره) د 1343کال د مهر د میاشتې په 13 نیټه سره له خپل زوي آیه الله حاج آقا مصطفی له ترکیې څخه د عراق هیواد ته واستول شو. امام خمیني وروسته له دې چې بغداد ته داخل شو نو لومړۍ د پاکو امامو علیهم السلام د زیارتونو لپاره کاظمین, سامرا و کربلا ته لاړ او له هغې وروسته بیا خپل ځاي یعنې نجف ته راستون شو.

**امـام خمینـی او هلو ځلو ته دوام ورکول ( 1350 - 1356 )**

د 1350هجري کال په دویمه نیمه کښې د بعثي عراق د رژیم او د شاه اختلافات زیات شول او تر دې چې ډېر ایرانیان چې په عراق کښې دېره وو له عراقه وتلو ته مجبوره شول امام خمیني د عراق جمهور رئیس ته په یو تلګراف کښې د رژیم دا کار محکوم کړو. او حضرت امام له همدې اعتراض په وجه له عراقه د وتلو اراده وکړه خو د عراق حاکمانو امام ته د وتلو اجازت ورنه کړ.

په 1354 کال کښې د 15خرداد د کلیزې په مناسبت سره په فیضیې مدرسې کښې یو ځل بیا انقلابي طالبانو پاڅون وکړ او په امام باندې درود او پهلوي رژیم باندې د مرګ نعرې تر دوه ورځو پورې په فیضیې کښې وهل کیدې شوې. له دې وړاندې یې ټول سیاسي او مذهبي شخصیتونه د رژیم په بند کښې بند کړي وو او د 1354کال د اسفند په میاشتې کښې د هیواد رسمي تاریخ چې د پیغمبر(ص) له هجرته شورو شوې ؤ په ډېره زړورتیا د هخا منشي د شاهانو د سلطنت په تاریخ بدل کړ خو امام خمیني ډېره په سختۍ سره د دې مخنیوې وکړ او وې فرمایل چې له دې بې بنسټه تاریخه استفاده کول حرام دي او خلقو په ډېره مینه دا خبره قبوله کړه لکه څنګه چې د رستاخیز د ټولګې د تحریم خبره منلې وه، او دا دواړه د هغه د سپکاوي سبب شول نو په 1357 کال کښې وروستو کیدو ته مجبوره شو او شاهنشاهي تاریخ یې ختم کړو.

**په1356کال کښې د اسلامي انقلاب زياتيدل او د خلکو پاڅون**

امام خميني ډېر په غور سره د نړۍ او د ايران بدلون له نظر لاندې ساتۀ او له پيښ شوي حالاتو څخه يې ډېره ګټه واخسته او په 1356 د مرداد په مياشتې کښې يې اعلان وکړ او وې فرمايل: اوس د هيواد دننه او بهر حالاتو ته پام سره او دا چې د رژيم ټول ظلمونه او زياتي په رسانو او ورځپاڼو کښې خپاره شوي دي نو دا يو ډېر ښه وخت دے چې علمي او فرهنګي غونډې، وطن خواه خلک او د پوهنتون لوستونکي چې د هيواد دننه دي که بهر او اسلامي غونډې پکار دي په ټوله نړۍ کښې څرګند پاڅون وکړي.

**دامـام خمينـی له عراقه پيرس ته هجرت**

په هغه ليدنه کښې چې د ايران او عراق وزيرانو په نيويورک کښې وکړه دا فيصله وشوه چې امام دې له عراقه وباسل شي. د1357کال د مهر د مياشتې په دويمه نيټه د امام خميني کور د بعثي قواوو په لاس راګير شو. د دې خبر خپريدلو سره د ايران عراق او د نورو هيوادونو مسلمانان سخت غصه شول. د مهر د مياشتې په 12 نيټه امام خميني له نجفه د کويت په نيت ووته خو د کويت حکومت د شاه په اشارې باندې امام خميني له خپل هيواده ستون کړ. لومړې خو دا خبره شوې وه چې امام به لبنان يا سوريې ته هجرت کوي خو امام د خپل زوي حجة الاسلام حاج سيد احمد خمينی په مشوره پيرس ته د تللو اراده وکړه او د مهر د مياشتې په 14 تاريخ پيرس ته ورسيد.

**د امام خميني د 14 کاله تبعيده وروسته ايران ته بيرته ستنيدل**

د 1357کال د بهمن د مياشتې په لومړيو کښې دا خبر خپور شو چې امام خپل هيواد ته راستنيږي. خلکو څوارلس کاله انتظار کړې ؤ چا چې به دا خبر اوريده نو له خوشالۍ به يې اوښې ورولې. خو پداسې حال کښې د امام ملګري د امام د ژوند لپاره خفه وو ځکه چې لا تراوسه د شاه حکومت ؤ خو امام خميني خپله اراده کړې وه او په بيلا بيلو پيغامونو کښې يې خلکو ته ويلي ؤ چې غواړم په دې خطرناکو ورځو کښې له تاسو سره وم. د بختيار حکومت د جنرل هايزر په صلاح سره د هيوار هواي ډګر د بهرني الوتکو لپاره بند کړ. خو څو ورځې وروسته د خلکو په وړاندې ټينګ نه شو او اخر دا چې د 1357کال د بهمن د مياشې په دولسمه نيټه څوارلس کاله پس خپل وطن ته راورسيد. خلکو يې دومره زيات په درناوي استقبال وکړ چې غربي ايجنسو هم د استقبال کوونکو شمېره له څلورو تر شپږو مليونه پورې وښودله.

**د شاهنشاهي نظام ختميدل اود بهمن د مياشتي په 22 نيټه د اسلامي انقلاب بريالي کيدل**

د 1357کال د بهمن د مياشتې په 19 نيټه هوايي فوځيانو د امام خميني په استوګنځاي (مدرسه علوی تهران) کښې له امام سره بيعت وکړ. د امريکې او شوروي سفارتونو له شاه څخه د پاتي شويو ساواکيانو په وسيله ، د کميونيستي ټولنو په وسيله او د مجاهدين خلق (منافقينو) په وسيله د اسلامي انقلاب په خلاف زيان رسوونکي حرکتونه شورو کړي وو. تيروريستي ټولنه چې د فرقان په نامه يادېده

هغوي د اسلامي شورى غړې او يو لوي پوهاند علامه مرتضى مطهري په 58/2/12 شهيد کړ او آيه الله قاضى طباطبايى يې په 10/ 58/8 او حاج مهدى عراقى او د هغه زوې يې په 58/6/4 شهيدان کړل او د ښاغلي هاشمي رفسنجاني او موسوي اردبيلي په ويشتو کښې ناکام شول.

## اته کاله تحميلي جنګ او د امام او د ايران د خلکو د ځان دفاع

وروسته له دې چې امريکه د جمهوري اسلامي اقتصادي او سياسي محاصرې کښې ناکامه شوه، او همدارنګه د طبس په صحرا کښې، په لانه جاسوسي کښې او د کردستان په دوه کولو کښې د امريکې ناکامي هغه دې ته راوسته چې په 1359کښې په ايران نظامي حمله وکړي. نو د عراق فوځ د 1359کال د شهريور د مياشتې په 31نيټه د ايران په پوله په 1280کلوميټره د هيواد په سهيلي علاقې باندې د خرم شهر له بندره د ابادان تر جنوب پورې خپله حمله شورو کړه. همدې سره سره د عراق الوتکو د تهران په هوايي ډګر او نورو مهمو ځايونو (د ورځې دوه بجې) بمباري وکړه. خو چې کله د صدام د شکست خبر په نړۍ کښې خپور شو نو د نړۍ څو لوي طاقتونه د ايران مقابلې ته راپاڅيدل. او د امريکې ټولې هلې ځلې د دې لپاره وې چې هر څه وکړي خو د ايران د فوځ د پرمختګ لاره ونيسي او صدام له ناکامۍ څخه وژغوري. د امنيت شورا د تحقيقاتو په اخر کښې خپل نظر داسې وړاندې کړه چې په 8 کاله دفاع کښې ايران په حقه ؤ او د 598 قطعنامې پر اساس جنګ ختم شو.

## د امام خميني ګورباچوپ ته په خپل پيغام کښې د مارکسيسي قطب د ختميدو وړاندې وينه

امام خمينى په خپل داسې بصيرت سره چې د مادي خلقو لپاره د محاسبې وړ نه ؤ، په هماغه ورځو کښې په 11 / 10 / 1367 په يو ليک کښې ګورباچوپ ته داسې وړاندې وينه کړې وه: له دې وروسته بايد کمونيس د نړۍ د سياسي تاريخ په ميوزيمو کښې ولټول شي.

## داسلام له پيغمبر (ص) او د ديني ارزښتونو څخه دفاع او د امام خمينى د لويديز په وړاندې ودريدل

کله چې سلمان رشدي خپل سپک کتاب ايات شيطاني وليکه او لويديز هيوادونو له هغې څخه رسمي حمايت وکړ، دا فرهنګي حملې شورو وه. امام خميني دليلونو او واقعيتونو ته په پام سره په 25 / 11 / 1367 کښې په يو وړوکي ليک کښې د سلمان رشدي د کفر او د هغه د مړولو (قتلولو) فتوى ورکړه او خپروونکي يې له دې خبر کړ چې دې کار سره يې يو لوي انقلاب جوړ کړ.

## امام خمينى رحلت, د يار وصال، او له يارانو بيلتون

هغوي په خپله وصيتنامې کښې ليکلي دي: په ارام او مطمئن زړه سره، په ښاد روح او د خداي فضل ته په هيله من ضمير سره، له خويندو رونړو له خدمته روان يم او هميشني ځاي ته په سفر ځم او ستاسو د خېر دعا ته ډېره اړتيا لرم او له رحمن او رحيم خدايه غواړم چې په خدمت کښې مې د کموالي (قصور او

تقصیر) عذر قبول کړي او له قومه هیله من یم چې (د هغوي د خدمت) په کمي کښې مې عذر قبول کړي او په قدرت او ژمنې او ارادې سره په وړاندې لاړ شي. د حیرانتیا خبره دا ده چې امام خمیني په خپل یو غزل کښې، چې له وفاته یې څو کاله وړاندې لیکلې ؤ داسې لیکلي وو:

سالها می گذرد حادثه ها می آید ------ انتظار فرج از نیمه خرداد کشم

کلونه تیریږي او حادثې راځي ............او د خرداد د میاشتې له نیمې د فرج (خلاصي) انتظار کوم.

او د 1368 کال د خرداد د میاشتې ماښام 8 بجې هغوي په حق ورسیدل.

# د نجف اشرف د ديني حوزی مشر او د نړۍ د شیعه ؤ مرجع تقلید

# حضرت آیت الله العظمی حاج سید علي سیستاني

**زیږیدا**

حضرت ایت الله العظمی سیستاني د 1349ه کال د ربیع الاول په نهمه نیټه د مشهد مقدس په ښار کې وزیږید او پلار یې د خپل نیکه په مینې هغه علي ونامول، د پلار مبارکه نامه یې مرحوم سید محمد باقر او نیکه یې چې د علم او زهد له بزرګانو څخه ؤ سید علي نامیدۀ، چې د ژوند لیک یې مرحوم شیخ اقا بزرګ تهراني په خپل کتاب طبقات اعلام الشیعه (څلورم ټوک 1432مخ) کې بیان کړې دې، هغوي په نجف کې د مولی علي نهاوندي له شاګردانو څخه، او په سامراء کې د مجدد شیرازي له شاګردانو څخه بیا د مرحوم سید اسماعیل صدر له خصوصي شاګردانو څخه وګرځیدل او د 1308ه کال په خوا و شا کې د مشهد مبارک ښار ته راستون شول او په همدې ځاي کې پاتې شول او مرحوم شیخ محمد رضا ال یاسین بزرګوار د هغوي له مهمترینو شاګردانو څخه دي.

د دوي خاندان چې حسیني سیدان دي د صفویانو په دور کې په اصفهان کې وسیدل چې د حسین صفوي بادشاه له اړخه د دوي نیکه سید محمد په سیستان کې د شیخ الاسلامي په منصب ولګید ، هغوي هلته لاړل او سره د کورنۍ هماغه ځاي پاتی شول. د هغوي د نمسیو څخه لومړی کس سید علي چې د ایت الله العظمي سیستاني نیکه ؤ مشهد ته مهاجرت وکړ او د مرحوم ملا محمد باقر سبزواري په مدرسه کې ایسار شو او له هغه ځایه یې د خپلې زده کړې د پوره کولو لپاره نجف اشرف ته مهاجرت وکړ.

هغوي د پینځو کالو په عمر کې د قران مجید د زده کړې او د لیکنې او لوستنې لپاره مدرسه دارالتعلیم کې داخل شو چې په دې وخت کې یې د خوشخطې د فن استاد میرزا علي اقا کاظم نه د خوشخطي هم زده کړه.

په 1360کال کې یې د پلار بزرګوار په وینا سره د ديني علومو د مقدماتو په زدۀ کړې بوخت شو چې د مرحوم ادیب نیشاپوري او ځینې نورو د فن معلمانو سره د ګڼ شمېر ادبي کتابونو لکه د ابن مالک شرح الفیه، د ابن هشام مغني، د تفتازاني مطول، مقامات حریري او شرح النظام په زده کړې بوخت شو. او شرح لمعه او قوانین یې مرحوم سید احمد یزدي سره چې په نهنګ مشهور دی، ولوستل او ځینی د سطح درسونه لکه مکاسب، رسائل او کفایه یې لوي عالم شیخ هاشم قزویني سره ولوستل او یو شمېر فلسفي کتابونه لکه شرح منظومه سبزواري، شرح الاشراق او اسفار یې مرحوم ایسي سره ولوستل او شوارق الالهام یې مرحوم شیخ مجتبي قزویني سره زده کړل او له علامه محقق میرزا مهدي چې په 1325

کال کې وفات شوی دی، نه یې ډیره ګټه واخستله او همدارنګ له میرزا مهدي اشتیاني او میرزا هاشم قزویني نه یې هم ګټې اخستي دي.

د ابتدايي علومو مقدمات او سطح د زده کړې نه وروسته ځینې معلمانو او ښوونکو سره د عقلي علومو په زده کړې بوخت شو، بیا په 1328 کال کې یې د قم مقدس ښار ته مهاجرت وکړ او د لوي مرجع ایت الله بروجردي(قدس سره) نه یې په فقه او اصول کې ډیره ګټه اوچته کړه او د هغوي د علم او د فقه د پوهې، په بیله توګه د علم رجال او حدیث په زره کړې کې یې ډیره ګټه اوچته کړه هغوي همدارنګ د فقیه او عالم فاضل سید حجت کوهکمري (قدس سره) او ګڼ شمېر نورو مشهورو عالمانو سره په درسونو کې ګډون وکړ.

هغوي چې کله په قم کې ؤ نو په دې وخت کې یې مرحوم سید علي بهبهاني، چې د اهواز له سترو عالمانو او د محقق شیخ علي هادي تهراني د مدرسې له تابعینو څخه ؤ، سره د قبلې د مسئلو په حقله د لیکونو په ذریعه د مرحوم محقق تهراني د نظریو په باره کې په تفصیل سره بحثونه وکړل چې مرحوم بهبهاني به د خپل استاد باورونه ژغورل،له لګو لیکونو وروسته مرحوم بهبهاني هغوي ته د مننې لیک راولیګه او د هغوي یې ډیر درناوې وکړ او دا خبره یې وکړه چې کله مشهد ته راشې نو نور بحث به هلته کوو.

په 1371ه کال کې هغوي له قم نه نجف اشرف ته مهاجرت وکړ چې د صفر د میاشتې په شلمه نیټه کربلا ته ننوت. بیا یې نجف ته سفر وکړ او د بخارائي مدرسې ته ورغې او همدلته ایسار شو چې د لویو معلمانو د اصول او فقه په درسونو کې یې ګډون وکړ لکه ایت الله خویي او شیخ حسین حلي. او همدارنګ یې د ایت الله حکیم او ایت الله شاهرودي (قدس سرهما) غوندې بزرګانو په درسونو کې هم ګډون وکړ.

په 1380ه کال کې یې خپل وطن مشهد ته د بېرته ستنیدو اراده وکړه او له دې کبله چې هلته یې د پاتې کیدو اراده درلوده نو د هغوي معلمانو ایت الله خوئي او شیخ حسین عاملي هغوي ته د مجتهد شونې ګواهي ورکړه او همداراز لوي محدث اقا بزرګ طهراني هم، په علم رجال او حدیث کې د هغه په پوهې ګواهي ولیکه.

هغوي په 1381ه کال کې نجف اشرف ته ستانه شول او سره د راتلو یې د شیخ انصاري د کتاب مکاسب په ښودنې شورو وکړه او ورپسې یې د طهارت باب له شرح عروه څخه او ډیر یې د نمانځه کتاب وښوده او په 1480ه کال کې چې کتاب صوم یې تر پای رسولې ؤ د اعتکاف کتاب په شرح یې شورو وکړه. همداراز پدې وخت کې یې په بیلا بیلو موضوعاتو لکه کتاب قضاء، د ربا بحثونو، قاعده الزام او

قاعده تقیه باندې فقهي بحثونه لرل او همداراز پدې وخت کې یې د علم رجال بحثونه هم لرل لکه د ابن ابي عمیر د مرسل حدیثونو حجیت او شرح مشیخة التهذیبین او داسې نور.

همدارنګ هغوي د علم اصول ځیني بحثونه د 1384ھ کال د شعبان په میاشتې کې شورو کړل او د ښودنې دریمه دوره یې 1411ھ کال د شعبان په میاشتې کې پاي ته ورسوله. د هغوي د فقه او د اصول ټول بحثونه له 1397ھ کاله تر اوسه پورې د ټیپ په کیسټو کې موجود دي او نن سبا(د 1423ھ کال د شعبان په میاشتې کې) د کتاب زکات او شرح عروة الوثقي په ښودنې بوخت دی.

**علمي غوره والې**

حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) به همیشه د خپلو معلمانو په درسونو کې خپل هوش او اوښیارتیا ښودله او د خپلو جماتیانو نه به وړاندې ؤ هغه په نیوکو، بیدارې، د فقې او رجال په مسئلو کې ډیر تحقیق او لټون او د زده کړې د کار په دوام کې او د ډیرو نظریو په پیژنګلو، د حوزې په بیلا بیلو علمي ډګرونو کې بیلګه مهارت وښودۀ، د ویلو وړ دې چې د حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) او شهید صدر (قدس سره) تر مینځ په حوزې کې علمي غوره والې او ډیر رقابت ؤ، دې خبرې ته د هغوي د دوو معلمانو یعنې ایت الله العظمي سید ابوالقاسم خوئي (قدس سره) او علامه حسین حلي (قدس سره) لیکلي شویو اجتهادي ګواهې نه رسیږو. او دا خبره مشهوره ده چې ایت الله خوئي (قدس سره) د ایت الله العظمي سیستاني او ایت الله شیخ علي فلسفي(چې د مشهورو عالمانوڅخه دی) نه علاوه بل چا ته لیکلي شوي ګواهي نه ده ورکړې او همدارنګ د خپلې زمانې د محدثانو لوي شیخ علامه بزرګ تهراني(قدس سره) د حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) لپاره په 1380ھ ق کال کې یوه ګواهي نامه لیکلې ده چې په هغې کې د حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) د مهارت او په علم رجال او حدیث کې د هغوي د پوهې تعریف او تمجید شوي دې، یعنې په هغه وخت کې چې حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) لا د 31 کالو نه ؤ شوې، دې لوړې مرتبې ته رسیدلې ؤ.

**د هغوي لیکل شوي کتابونه**

تقریباً 34 کاله وړاندې حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) د فقه اصول او رجال د درسونو په ښودنې شورو وکړه او د مکاسب، طهارت، صلوة، قضاء او خمس ځیني بحثونه او د فقې ځیني قواعد، لکه ربا، تقیه او الزام، یې هم ترسره کړل. هغوي د اصول درس په درې دورو کې ترسره کړ چې د دورې ځیني بحثونه لکه د اصول علمي او د تعادل او تراجیح بحث او همدارنګ د فقې ځیني بحثونه او د نمانځه د بحث ځینې سپرکي او د الزام او د تقیې قاعده د چاپ لپاره تیار دي.

ځینې مشهور عالمان چې له هغوي څخه ځینې د درس خارج معلمان دي لکه علامه شیخ مهدي مروارید ، علامه سید مرتضي مهري، علامه سید حبیب حسینیان، سید مرتضي اصفهاني، علامه سید احمد مددي، علامه شیخ باقر ایرواني او د دیني حوزې ځینې نور معلمان د هغوي د بحثونو په مراجعې او پلټنې بوخت دي.حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) درس ښوونې سره سره د مهمو کتابونو او یو څو رسالو په لیکنې بوخت شو. همداراز هغوي د خپلو معلمانو ټول تقریرات (په درس کې لیکل شوې خبرې یا لاس لیک) ولیکل.

**په بحث او ښودنې کې د هغوي طریقه**

د حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) طریقه د حوزې د نورو معلمانو او د درس خادج د معلمانو طریقې سره توپیر لري لکه هغوي د علم اصول په بحث کې لاندینې طریقه لري:

الف _ د بحث تاریخ بیانول او د اصول پیژنګلو او د بحث جړې، چې کیدې شي یو فلسفي مسئله وي لکه سهولت او اساني او د هغې ترکیبونه، یا یوه عقیدتي او سیاسي مسئله وي لکه د تعادل او تراجیح بحث، چې پدې بحث کې وائي : په حدیثونو کې اختلاف په هغې زمانې کې د فکري او عقیدتي جنګونو او د امامانو د زمانې د سیاسي شرائطو له امله پیدا شوې دی او د دې د تاریخ نه خبریدل مونږ د دې مسئلې د ټولو اړخونو او د دې په باره کې ویلې شویو نظریو نه خبروي.

ب _ د حوزې د سوچ او د دې زمانې د رواج تر مینځ یو ځاي کول، چې کله یې خپله نظریه د الفاظو په بحث کې د الکفایې کتاب دلیکونکي په څېرکوله چې د اوسنې زمانې د فلسفې پر اساس ده چې ورته "نظریه تکثیر ادراکي" (د انسان د ذهن فعالیت او خلاقیت) وایي، پدې شان چې کیدې شي د انسان ذهن یو مطلب په دوه ډوله واخلي چې یو ډول یې واضح، مستقل او غور سره تصور کړي چې ورته اسم وایي او دویم ډول انقباض او نیوکې سره چې ورته حرف ویلې شي. او کله چې د مشتق بحث ته ننوزي هغوي د زمان په باره کې (د فلسفې نوې نظریې سره چې په غرب کې یې رواج دی هغه داچې زمان پکار دی له مکانه د نور او ظلمت په تعاقب (په یو بل پسې) سره د یو بل نه بیل شي) وایي: "د امر د صیغې او د تجري (د مولي حکم نه منل) د بحث په دوران کې د جامعه شناسې د عالمانو نظریه څېړي چې پدې باور دي چې پکار ده د پوښتنه کونکي حقیقت د هغه له پوښتنې څخه بیل شي. د سزا اوجزا ملاک دادې چې بنده او غلام د خپل مولي د حکمونو نه سرغړولې دی. او دا حالت د تیرې شوې جامعې د تقسیماتو او د طبقاتي نظام نتیجه وه چې پکې مالکان، غلامان، برتر او بدتر (ډیر ښه او ډیر بد) او نورې داسې درجې وې. په حقیقت کې دا نظریه له تېر شویو فرهنګونو او دود و رواج پاتې شوې وه چې د قانون او د انسان لپاره به یې خبره نه کوله بلکه د طبقه بندې او درجو خبره به یې کوله.

ج_ هغه اصول به يې غوره کول چې فقې سره يې اړيکه درلوده، له همدې کبله يو طالب علم کيدې شي د نورو عالمانو د فقې په بحثونو کې د هغې مسئلو تفصيل او جرړې وګوري چې هيڅ علمي ګټه نه لري داسې ټکې لکه د "وضع" بحث او دا چې ايا "وضع يو اعتباري امر دی که تکويني، يا دا چې يو داسې ټکې دی چې خلکو يوې معنې سره تړلې دی او وعده يې کړې ده چې په همدې معنې کې به يې استعمالوي. يا هغه بحثونه چې د يو علم د موضوع په باره کې او د تعريف د عوارض ذاتي په باره کې کيږي، خو د حضرت ايت الله العظمي سيستاني(دام ظله) په درسونو کې ليدی شې چې هغوي د اصول د علم په بحثونو کې چې د استنباط (حکم ته رسيدل) د طريقو په باره کې ۆ خپل ټول کوښښ د محکمو او کلکو علمي باورونو ترلاسه کولو لپاره کړی دی.

د_ نوي لارې د حوزې ډير ماهر معلمان د ښودنې له نوي لارو څخه خبر نه دي او هميشه يې دا کوښښ وي چې په يو زوړ کتاب باندې حاشيه يا تعليقه وليکي بې له دې چې د يو کتاب اصلي مطلب بيان کړي له همدې کبله ګورو چې دا رنګ معلمان يوازې د موجودو باورونو(نظريو) په لړ خبرې کوي او له همدې باورونو (نظريو) څخه يو خوښوي او په اخر کې څه دا رنګ عبارتونه راوړي "فتأمَل" يعنې دې مطلب ته ځير شه، يا "پدې خبره کې دوه اعترضه دي" يا "پدې اعتراض بايد غور وشي" او دا رنګ نور عبارتونه.

هـ_ مشرکانو سره نکاح جائزه ده : دا قاعده چې تزاحم ورته وايي او د اصول اوفقې عالمان دا صرف يوه عقلي قاعده ګڼي، حضرت ايت الله العظمي سيستاني(دام ظله) دا قاعدۀ "اضطرار" ګڼي چې يوه شرعي قاعده ده او ورباندې زياد حديثونه راوړل شوي دي لکه دا حديث "هر يو شې چې خداي حرام کړی دی د مجبور کس لپاره حلال دی" د اضطرار قاعده هماغه د تزاحم قاعده ده. او يا دا چې ځينې د فقې عالمان ځينې قاعدې بې له څه ګټې اوږدوي لکه د"لاتعاد"په قاعده کې چې د فقې عالمان دا قاعده د دې د حديث له کبله يوازې د نمانځه لپاره ګڼي په داسې حال کې چې حضرت ايت الله العظمي سيستاني(دام ظله) د "لاتعاد الصلوه الا من خمس" حديث د يوې بلې کبرې مصداق ګڼي چې هغه کبرې هم نمانځه ته او هم نورو واجباتو ته شامليږي او دا کبرې د روايت په پايه کې موجوده ده "لاتنقض السنه الفريضه" پس دا يوه منلې شوې خبره ده چې په نمونځ او نورو حکمونو کې فرض تر سنتو وړاندې دی ځکه چې وخت او قبله له فرضو څخه دي نه له سنتو.

و _ اجتماعي کتنه: ځينو د فقې عالمان د متن لفظي ترجمه او معني کوي يعنې د متن په ټکو بوخت وي بې له دې چې وړاندې لاړ شي او د هغې متن اوچته او ښه معني ولټوي ځينې نور عالمان د متن د ويلو د وخت شرطونه جاجوي د دې لپاره چې د هغې پيښو نه خبر شي چې د حديث د متن سره اړيکه لري، د مثال په توګه د پيغمبر(ص) هغه حديث ته چې پکې يې د ساتلي شوي خر غوښه (د خيبر په غزا کې) حرامه کړې ده، وګورو نو وينو چې ځينې د فقې عالمان د دې حديث په بيل بيل ټکي عمل کوي يعنې د ساتلي شوي خر غوښه حرامه ګڼي پداسې حال کې که چيرې د ويلو د وخت شرطونو ته پام وکړو نو د پيغمبر(ص) اصلي مطلب ته ورسيږو او هغه دا چې د يهودو سره په غزا کې مسلمانانو وسلې او د جنګ

سامان ته اړتیا درلوده او د جنګ کالي په هغه زمانه کې همدا د سورلۍ ځناور وو نو دې نتیجې ته رسیږو چې د دې حدیث مطلب حکومتي حکم او منعې کول ؤ یعنې ساتل شوې خر په خپله حرام نه ؤ بلکه د هغه زمانې د حالاتو له کبله پیغمبر(ص) دا حکم ورکړې ؤ او پکار ندي چې هغه یو همیشنې د شرعې حکم لکه حرام یا مکروه جوړ شي.

ز ـ د مسئلو په راویستلو (استنباط) کې د هغوي علم او پوهه: حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) دا باور او عقیده لري چې پکار دی د فقې یو عالم د عربو د ژبې له قاعدو څخه خبر وي او د عربې نثر، شعرونه، او د ټکو مجازي استعمال وپیژني چې د متن موضوع باندې پوهه شي او جمع یې کړې شي، او همداراز پکار دي چې د اهلبیتو علیهم السلام له حدیثونو او د هغوي له راویانو څخه پوره پوره خبر وي ځکه چې د علم رجال زده کړه د هر یو مجتهد لپاره ضروري ده. همداراز حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) داسې باورونه او عقیده لري چې د مشهورو باورونو سره ډیر توپیر لري، د مثال په توګه د "ابن قضائري" باندې د اعتماد نه کولو په مسئله کې، چې ځینو یې ډیر توهین او سپکاوې کړې دی او ځینو ویلي دي چې دا کتاب د هغوي نه دی، یو بیله نظریه لري او هغه دا چې دا کتاب په ریښتیا د هغوي کتاب دی او قضائري د نجاشي، شیخ او نورو نه زیات د اعتماد وړ دی. هغوي په دې باور دی چې د یو روایت کونکي شخصیت معین کول او د هغه تائیدول او تر ټو پورې چې یو حدیث مسند یا مرسل کیدې شي پکار ده د طبقات په لانبود عمل وکړې شي، او دا هماغه د ایت الله بروجردي طریقه وه، حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) پدې باور ؤ چې د فقې عالم باید د حدیث د کتابونو او د هغوي د نسخو د اختلاف نه، د مؤلف د حالاتو نه خبر وي چې دا حدیث یې صحیح لیکلی دی که نه او همداراز د لیکونکي د لیکنې د طریقې نه یا د روایت کونکي طریقې نه خبر وي د مثال په توګه حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) دا خبره نه قبلوي چې صدوق(رح) د روایت په نقلولو کې له نورو څخه ښه او دقیق ؤ بلکه شیخ امین او د اعتماد وړ ګڼي.

ح : د بیلا بیلو مکتبونو په خپلو کې مقایسه: ټول خبر دي چې ډیر معلمان خپل بحثونه د یو خاص مکتب(مذهب) او باور په نظر سره لولي او جاجوي خو حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) له داسې معلمانو څخه نه دی، د مثال په توګه هغوي د مشهد ، قم او د نجف حوزی تر مینځ مقایسه کوي او د میرزا مهدي اصفهاني(قدس سره) باور او رای، چې د مشهد د مشهورو عالمانو څخه بلل کیږي، د ایت الله بروجردي(قدس سره) باور، چې د قم د علمي حوزی د تفکر یوه نمونه ده او د نجف د دیني حوزی د دوو مشهورو څیړونکو، د ایت الله خوئي(قدس سره) او د شیخ حسین حلي(قدس سره) باور او عقیده، ټولې په ګډه وړاندې کوي، بې له څه شکه دا طریقه مونږ ته د بحث کونې ټولې لارې او د بحث جړې په ښه طریقه راښیي. د هغوي بزرګوار د فقې طریقې څو بیلګې لري چې ځینې دا دي:

1 : د شیعه ؤ او د نورو اسلامي مذهبونو تر مینځ مقایسه: بې له څه شکه په داسې دور کې چې کتابونو ته د هر چا لاس رسي د سنیانو له فقې څخه خبریدل، لکه د مالک موطاء، او د ابو یوسف خراج او داسې

نورو کتابونو څخه مونږ پوهیدئ شو چې د ائمه علیهم السلام د دې حدیث یا هغې حدیث په وخت کې څه مطلب ؤ.

2 : د فقې په ځینې مسئلو کې د دې زمانې د علم حقوق استعمالول، لکه د بیع او خیارات کتاب د جاجولو په وخت د عراق، مصر او فرانس د قانونونو لدستل، ځکه چې د اوسني قانونونو پیژندنه انسان ته ډیره تجربه ورکوي چې د فقې د قاعدو په څیړنه او پراختیا کې ګټه وره ده.

3 : زمونږ ډیر عالمان د تیرو عالمانو نه رارسیدلې قاعدو ته هیڅ بدلون نه ورکوي خو حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) کوښښ کوي چې د فقې ځینې قاعدې نوي کړي لکه د "الزام" قاعده چې ځینې هغې ته د "مصلحت" قاعده وایي چې د دې قاعدې په اساس مسلمانان دا حق لري چې د خپلې ګټې ترلاسه کولو لپاره د ځینې نورو اسلامي مذهبونو قانونونو پیروي وکړي سره د دې چې دا قانونونه د هغوي اصلي مذهب سره سمون نلري.

پداسې حال کې چې حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) دا کار نه قبلوي او د نورو مذهبونو د قانونونو عزت د خپل مذهب د قانون نه زیات واجب ګڼي لکه د "لکل قوم نکاح" قاعده (یعنې د هر قوم د نکاح او وادهٔ خپل رسم او رواج دی.

**د حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) د شخصیت بیلګې:**

هر یو کس چې له نږدې حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) سره کیني پاڅي نو ډیر زر د هغه په شخصیت(سرې توب) پوهیږي، د حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) همدې شخصیت او ښه سرې توب هغه په لویې نمونې او دیني عالم بدل کړی دې د هغوي ځینې نیک اخلاق او فضیلتونه چې ما لیدلي دي بیانوم:

الف_ انصاف او د نورو د عقیدو قدر او عزت:

له هغه ځایه چې دوي د علم عاشق دي او حقو ته رسیدنې او زده کړې سره یو بیلګه مینه لري نو همیشه د نورو د عقیدو او نظر عزت کوي همیشه یې کتاب په لاس کې وي او هیڅ کله لوستل، جاجول، بحث کول او د نورو له نظریو څخه خبریدل نه هېروي له همدې کبله دوي د ځینې غیر مشهورو عالمانو بحثونه هم لولي او جاجوي او له هم دې نه څرګندیږي چې حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) د نورو نظریې د قدر وړ ګڼي.

ب_ په متلونو او خبرو کې اخلاق ته پام:

لکه څنګه چې ټولو ته معلومه ده چې د طالبانو تر مينځ، يا د معلم او شاګرد تر مينځ په بيله توګه د نجف اشرف په ديني حوزه کې، چې کوم بحثونه کيږي نو ډير تيز او تراخه وي په ځينې وخت کې دا طريقه د طالبانو لپاره ګټه وره ده خو سره د دې هميشه دا ترخوالې او تيزي د بحث روغه لاره نه ده او هيڅ کله هم څه علمي مطلب ته نه رسيږي او د وخت ضايع کولو نه علاوه څه ګټه نه لري، له بلې خوا د حضرت ايت الله العظمي سيستاني(دام ظله) بحثونه به خپلو شاګردانو سرا هميشه د معلم او شاګرد د قدر پر اساس ؤ سره د دې چې ډير موضات او بحثونه چې به د هغوي تر وړاندې راوړل شول کمزورې او بې دليله ؤ. د حضرت ايت الله العظمي سيستاني(دام ظله) يوه بله بيلګه دا وه چې کله به يې شاګردانو ته ځواب ورکو نو کوښښ به يې دا ؤ چې څو ځله يې تکرار کړي د دې لپاره چې شاګردان په مسئلې ښه پوهه شي خو که چېرې سوال کونکي په خپل باور باندې ټينګار وکړي نو حضرت ايت الله العظمي سيستاني (دام ظله) غلي کيدل ښه ګڼي.

ج_ تربيت او پالنه:

معلمي او ښودنه د پيسو د ګټلو يو وسيله نه ده او نه يو ذمه واري او کار دی چې په انسان فرض شوې وي بلکه د يو ښه، مهربانه او زړه سوزي معلم بايد دا کوښښ وي چې د خپلو شاګردانو پالنه او تربيت وکړي او هغوي يو لوړ علمي مقام او هميشني ترقې ته ورسوي له همدې کبله مينه د دې کار لازمه ده. سره د دې چې په هر ځاى کې بې خياله او غافل خلق شته دي خو ورسره ورسره داسې مخلص، مهربانه او پوهه معلمان هم شته دي چې د هغوي اصل مطلب د علم په ښه توګه رسول دي.

د ويلو وړ دی چې ايت الله حکيم(قدس سره) او ايت الله خوئي(قدس سره) هميشه د ښو اخلاقو نونې وې او هغه څه چې مې له ايت الله سيستاني څخه ليدلي دي هماغه د خپلو معلمانو اخلاق يې ؤ، هغوي هميشه له خپلو شاګردانو غواړي چې د درس په پاي کې له هغه څخه پوختنې وکړي، حضرت ايت الله العظمي سيستاني(دام ظله) هميشه خپلو شاګردانو ته نصيحت کوي چې د خپلو معلمانو او د لويو عالمانو قدر کوئ او له هغوي څخه د پوښتنې په وخت د درناوي خيال شاتئ، هغوي هميشه د خپلو معلمانو لويه حوصله بيانوي او له هغوي څخه ډير دوايتونه او قصې نقلوي.

د_ د هغوي تقوي او پاکوالې:

د نجف اشرف ځيني عالمان ځان د جنګ جګړې نه ليرې کوي چې ځيني خلک يې د واقعيت نه تيښته يا هېره او د بيان کمزوري ګڼي خو که چيرې همدې مسئلې ته په يو بل ډول وګورو نو معلومه به شي چې دا يو ښه کار دې بلکه په ځينې ځايونو کې ضروري او لازم دی، اوس هماغه عالمان چې ځان يې له جنګه ډډې ته کولو که چيرې پوهه شي چې اسلامي امت يا حوزه د يوې پيښې له کبله يا د يو اسلامي مطلب د معلوم نه شونې له کبله په خطرې کې دی نو بې له شکه به په ميدان کې وي ځکه چې دا عالمان ښه

پوهيږي چې په سختو او خطرناکو وختونو کې بايد خپل علم ښکاره کړي، يو ضروري خبره ده چې د هيريدو وړ نه ده هغه دا چې حضرت ايت الله العظمي سيستاني(دام ظله) به هميشه د فتنې او جنګ په وخت کې چپ ؤ لکه څنګه چې د حضرت ايت الله بروجردي (قدس سره) او د ايت الله حکيم (قدس سره) د وفات په وخت د هغوي کرسۍ ته د رسيدو لپاره کمې کينې څرګندې شوې وې پداسې وخت کې حضرت ايت الله العظمي سيستاني(دام ظله) هماغه خپل سياست او لارې باندې ولاړ ؤ او هيڅ کله يې دا مطلب نه ؤ چې د دنيا لذتونه، مقام او مشرۍ ته ورسي.

هـ_ د هغوي فکري اثرات:

حضرت ايت الله العظمي سيستاني(دام ظله) صرف د فقې عالم نه ؤ بلکه هغه يو هوښيار او عاقل کس ؤ چې د سياست او اقتصاد په ميدان کې يې يو بيلګه نظر درلود. هغوي د جامعه شناسۍ په علم کې ګټه ورې نظريې لري او هميشه د اوسني دور د حالاتو نه چې په اسلامي غونډې حکومت کوي خبر لري.

د ويلو وړ دې چې هغوي کله د 1409هـ کال په 29 نيټه د خپل معلم مرحوم ايت الله سيد ابوالقاسم خوئي (قدس سره) پوختنې ته تللي ؤ نو استاد ړرته وفرمايل چې زما په ځاي په مسجد حضراء کې امامتي کوه خو هغوي قبوله نه کړه، خو استاد پرې ټينګار وکړ او وې فرمايل:"که ما کولی شوی نو لکه څنګه چې مرحوم حاج اقا حسين قمي (قدس سره) حکم کولو ته مې مجبورولې" خو بيا هم هغوي څو ورځې وخت وغوښتل او د 1409هـ کال د جمادي الاول د پينځمې نيټې نه يې امامتي شورو کړه او 1414هـ کال تر اخري جمعې پورې چې کله مسجد خضراء بند شو امامتې ورکوله.

هغوي حج په ځاي راوړلو لپاره په 1384هـ کال او دوه ځله په 1450هـ او 1406هـ کال کې بيت الله الحرام ته تللي دي.

**د هغوی مرجعيت**

د نجف اشرف له ځينې معلمانو څخه نقل شوې ده چې ځينو عالمانو د ايت الله سيد نصرالله مستنبط (قدس سره) د وفات نه وروسته ايت الله خوئي ته وويل چې د نجف اشرف د ديني حوزې د مرجعيت د ځاي ناستي لپاره شرطونه کيږدي، هغوي ايت الله سيستاني (دام ظله) د خپل علم، پاکې لارې او ښې عقيدې له کبله انتخاب او خوښ کړ. اول يې د ايت الله خوئي (قدس سره) په ځاي نموځ وکړ بيا يې د ايت الله خوئي (قدس سره) په مسلک (عقدې) او رسالې باندې بحث او ليکل شورو کړل د ايت الله خوئي (قدس سره) د وفات نه ورسته حضرت ايت الله العظمي سيستاني(دام ظله) يو له هغې کسانو څخه ؤ چې په ايت الله خوئي (قدس سره) باندې يې د جنازې نموځ وکړ او له دې وروسته يې د ديني حوزې مشري په لاس واخستله او اجازتونه ورکول (د خمس او زکات او نور) د مالونو تقسيمول او د ايت الله خوئي (قدس سره) له ممبر نه يې په حضراء جمات کې درس شورو کړ او همدارنګ حضرت ايت الله العظمي

سیستاني(دام ظله) په عراق، د خلیج فارس په هیوادونو، هندستان، افریقې او نورو هیوادونو کې په بیله توګه په ځوانانو کې ډېر مشهور شو. حضرت ایت الله العظمي سیستاني(دام ظله) یو لوي عالم دي چې خلک یې پیژني او په اعلمیت (د ټولو نه زیات علم لرونکې) مشهور دی او د او ډېر عالمان او د قم او د نجف د دیني حوزې معلمان د هغوي په اعلمیت ګواهي ورکوي. له خداي پاکه غواړو چې مسلمانان د هغوي د مبارک سوري د لاندې ساتي.

## حضرت آیت الله العظمی حاج سید علی حسینی خامنه‌ای

هغوي سره د دې چې يو لوي فقيه دے، د رجال، تاريخ او ادبياتو په علم کښې هم يو بيلګه مقام لري او اوس هم سره د دې چې د نړۍ د شيعه وو مشرواليې يې په غاړه ده د فقهې د عالي دورې د درسونو په ښودلو بوخت دے او په بيلا بيلو مضوعاتو کښې يې ډېر درانه کتابونه ليکلي دي.

په 1318 هجري شمسي کال کښې په يو روحاني خاندان کښې د مشهد په مقدس ښار کښې وزيږيد. د هغوي پلار آية اللّه آقا سيد جواد د مشهد له مجتهدينو او عالمانو څخه ګڼل کيدۀ او نيکۀ يې آية اللّه سيد حسين خامنه اى د اذربانجان له عالمانو څخه ؤ چې په نجف کښې پاتې کيده. د وړوکوالي زمانه يې په سختې سره تېره کړه او د پينځه کالو په عمر کښې له خپل مشر ورور سيد محمد سره مکتبخانې ته او بيا د يو کال لپاره ابتدايي اسلامي مدرسې ته چې نوم يې "دار التعليم ديانتي" ؤ لاړ. هغۀ د شپږم جماعت د سند له اخستلو وروسته دبيرستان ته لاړ او په دوه کاله کښې يې د دبيرستان دوره ختمه کړه او د ديپلم (دولسم جمات) سند يې واخسته. هغوي د حوزے د درسونو څلورمه پايه د لمعې کتاب له خپل پلار څخه او نور يې له اقا ميرزا احمد مدرس تبريزي په نږدې ولوستل. او د رسائل او مکاسب درسونه يې له حاج شيخ هاشم قزويني څخه زده کړل. او د سطح ټوله دوره يې په پينځنيمو کالو کښې ختمه کړه او بيا د حضرت ايت الله العظمى ميلاني د خارج درس ته حاضر شو. په 1336 کال کښې يې نجف اشرف ته مهاجرت وکړ او هلته يې په ډېر لنډ وخت کښې له حضرت ايت الله العظمى حکيم , حضرت ايت الله العظمى خوئى او حضرت ايت الله العظمى شاهرودی له درسونو ګټه واخسته. ايران ته له راستنيدو وروسته يې له آية اللّه العظمى بروجردى اوحاج آقامرتضى حائرى له درسونو ډېره ګټه واخسته او د حضرت امام خمينى د فقهې او اصول په درسونو کښې يې ګډون وکړ. له 1334 کاله وروسته يې د پهلوي رژيم پر خلاف خپلې هلې زلې شورو کړے او د انقلاب اسلامي تر کاميابې پورې څو څو ځلې په بيلا بيلو عنوانونو سره ونيول شو او وشړل شو.

د اسلامي انقلاب له کاميابې وروسته د ډېرو مهمو پوسټونو لرونکې ؤ لکه: د شوراي انقلاب غړې، په وزارت دفاع کښې د شوراي انقلاب نماينده او د وزير دفاع مرستيال، د تهران د جمعې د لمانځه امام، د تهران د خلکو نماينده، دوه ځله د جمهوري اسلامي ايران وزير اعظم او د انقلاب د لوي رهبر حضرت ايت العظمى امام خميني (ره) له وفاته وروسته د خبرګانو د غونډې په هوښيارى سره د اسلامي انقلاب په مشرې وټاکل شو.

## حضرت آیت الله العظمی حاج سید محمد حسینی شاهرودی

د قم له مشهورو فقيهانو څخه دے چې د فقهې د عالي دورې د درسونو په ښودلو مشغول دے

د 1344 هجري کال د جمادی الاولی په میاشتې کښې په نجف اشرف کښې وزیږید .

هغوي د مقدماتو سبق خپل پلار سره او همدارنګ له مرحوم شیخ علی شهربابکی اومرحوم شیخ شمس زنجانی نه زده کړ. د سطحې درسونه لکه رسائل او مکاسب یې خپل پلار سره او کفایة الاصول یې مرحوم آیة اللّه العظمی آقا میرزا هاشم آملی او مرحوم آیة الله شیخ عبدالحسین رشتی سره ولوست.

په1360 سپوږمیز کال کښې د شپاړسو کالو په عمر کښې یې د خارج درس شورو کړ او د خپل پلار آیة اللّه العظمی حاج سید محمود شاهرودی له درسه یې ګټه واخسته او په 1383سپوږمیز کال کښې یې د خارج درس ورکول شورو کړ او تر اوسه پورې د قم په علمي حوزې کښې درس ښیي.

# حضرت آیت الله العظمی حاج شیخ حسین نوری همدانی

د قم له مشهورو فقیهانو څخه دے چې د فقهې د عالي دورې د درسونو په ښودلو مشغول دے

په 1304 شمسي کال کښې د همدان په ښار کښې وزیږید. او د اوو کالو په عمر کښې يې خپل پلار سره سبق شورو کړ او د فارسۍ ژبې ادبیات، گلستان کتاب، املاء او نور نصاب ... تر معالم کتاب پورې يې ولوستل.

په 1322 شمسی کال کښې يې قم ته مهاجرت وکړ او د آیت الله سید محمد باقر سلطانی طباطبائی, آیت الله داماد, آیت الله شیخ محمد مجاهدی, آیت الله میرزا مهدی تبریزی په درسونو کښې يې گډون وکړ.

او د آیت الله العظمی بروجردی, آیت الله رفیعی قزوینی, آیت الله حاج میر سید علی یثربی کاشانی او حضرت امام خمینی له درسونو يې هم گټه واخسته.
د اسلامي انقلاب د بریالۍ نه وروسته په یورپ کښې د امام خمینی(ره) نماینده وټاکل شو او بیلا بیلو هېوادونو ته يې سفرونه وکړل.

هغه اوس هم د قم په علمي حوزه کښې د فقهې او د اصول د خارج په درس ورکولو بوخت دے.

info@noorihamedani.com

# حضرت آیت الله العظمی حاج شیخ محمد تقی بهجت فومنی

د قم له مشهورو فقهاوو څخه دے چې په فقه د عالي دورې درسونه ښيي. هغوي په زهد او معنويت کښې ډېر مشهور دي.

د 1334هجري قمري کال په اخر کښې په شهر فومن کښې وزيږيد.

د هغوي پلار کربلايي محمود بهجت په 1334 هجري قمري کال کښې د هغې ځاي له اعتماد وړو کسانو څخه ګڼل کيدۀ. لومړۍ تعليم يې د فومن په مکتب خانې (ښونځي) کښې تر سره کړل. او په فومن ښار کښې يې په 1348 هجري کښې په ديني تحصيل شورو وکړه. د ادبياتو له زده کړې وروسته د قم په لورې روان شو او هلته له لږو ايساريدو وروسته کربلاې معلی ته لاړ او د اخوند خراساني د يو شاګرد په درس کښې يې شرکت وکړ او د لويو ايت الله وو حاج آقا ضياء عراقی او ميرزای نائينی په درسونو کښې له شرکته وروسته يې د ايت الله حاج شيخ محمد غروي اصفهاني (کمپاني) په درس کښې ګډون وکړ.

همدارنګ يې د ايت الله الغظمی حاج سيد ابوالحسن اصفهاني او حاج شيخ محمد کاظم شيرازي له درسونو زياته ګټه واخسته او د فقه او اصول نه پرته يې د مرحوم سيد حسين بادکوبه په نږدې د اين سينا د اشارات کتاب او د ملاصدرا کتاب اسفار ولوسته.

په 1364قمري کال کښې ايران ته راستون شو او په قم کښې يې له آيت اللّه العظمی کوه کمری څخه ګټه واخسته او د حضرت آيت اللّه العظمی بروجردی د فقه او اصول په درسونو کښې يې ګډون وکړ.

هغوي له 50 کاله پرته وخت وشو چې په خارج فقه او اصول د درسونو په ښودلو بوخت دے او غالباً په واسطه سره په خپل کور کښې سبق ښيي.

# حضرت آیت الله العظمی حاج شیخ میرزا جواد تبریزی

د قم له مشهور د فقهې عالمانو څخه دے چې د فقهې د عالي سطح درسونه ښاي

په 1305هجري شمسي کال کښې د تبريز په ښار کښې وزيږيد.

دنياي علومونه کښې په تبريز ښار کښې پاي ته ورسول او د اتلسو کالو په عمر په 1323 کال کښې د تبريز طالبيه مدرسې کښې داخل شو او په څلورو کالو کښې يې مقدمات او د سطحې ځينو علمونه يې زده کړل.

په 1327 شمسي کال کښې قم قم علمي حوزې ته راغلو او د سطحې درسونه يې هلته ولوستل او د آيت الله حجت او آيت الله بروجردي د خارج په درسونو کښې يې شرکت وکړ او ورسره ورسره يې په خپله هم د سطحې درسونه ښودل.

هغه په 1332 شمسي کال کښې زده کړې ته ادامه ورکولو لپاره نجف اشرف ته لاړ او هلته يې د آية اللّه العظمى سيدابوالقاسم خوئى او آية اللّه سيد عبد الهادى شيرازى غوندې استادانو په درس کښې ګډون وکړ.

دوي د آيت الله خوئي له تکړه شاګردانو څخه ګڼل کيږي چې 23کاله يې په نجف کښې تېر کړل او کله چې 1355شمسي کال کښې د امام حسين(ع) له زيارته نجف ته ستنيده و د عراق رژيم هغوي ونيول او ايران ته يې راوستول. وروسته يې دې چې ايران ته راغلل نو د قم علمي حوزې ته راغلل او اوس هم د قم په حوزه کښې د فقه او اصول هغه درس چې له ټولو زيات شاګردان پکښې ګډون کوي د هغوي درس دے

ايشان يكى از شاگردان برجسته آية اللّه خوئى به شمار مى رودكه پس از 23 سال حضوردائم درحوزه نجف درسال 1355 شمسى هنگام مراجعت از زيارت حضرت امام حسين (ع )به سمت نجف توسط رژيم عراق دستگيرو به ايران فرستاده شد.
وى پس از مراجعت واردحوزه علميه قم شدوهم اكنون حوزه درس خارج فقه و اصول ايشان يكى از پر رونق ترين درسهاى حوزه علميه قم است.

حضرت آیت الله العظمی حاج شیخ ناصر مکارم شیرازی

د قم له مشهورو فقيهانو څخه دے چې د فقهې عالي درسونه ښايي. هغوي ډېر تاليفات(کتابونه) لري

چې له ټولو مشهور يې تفسير نمونه ده.

هغه په 1345هجري قمري کال کښې د شيراز په ښار کښې وزيږيد. د هغوي د پلار نوم حاج علي محمد مکارم دے.

هغوي خپل د ابتدايي درسونه په شيراز ښار کښې ولوستل او د څوارلسو کالو په عمر کښې يې د مدرسې درسونه د شيراز په باباخان مدرسه کښې شورو کړل او د اتلسو کالو په عمر کښې د قم علمي حوزې ته راغلل او د حضرت آيت اللّه العظمی بروجردی او نورو آيات الله ؤ درس کښې يې ګډون وکړ.

په 1369 سپوږميز(قمري) کال کښې د نجف اشرف علمي حوزې ته لاړل او د آيت اللّه حکيم، آيت اللّه خويي، آيت اللّه عبدالهادي شيرازي په درسونو کښې حاضر شو او د 1370 سپوږميز کال د شعبان په مياشتې کښې ايران ته ستون شو او د عالي سحطې د درسونو په ښودلو بوخت شو او بيا يې د فقهې او اصول خارج درسونه هم وښودل.

د دوي له خدمتونو څخه چې ځينې موسسې او علمي مرکزونه يې جوړ کړي دي د امام امير المؤمنين(ع) په نوم مدرسه د امام حسن مجتبی(ع) په نوم مدرسه او د امام حسين (ع) په نوم مدرسې يادولې شو.

# حضرت آیت الله العظمی حاج شیخ محمد فاضل لنکرانی

حضرت آیت الله العظمی حاج شیخ محمد فاضل لنکراني چې نن د علم، ایمان او عمل نومیالې او د نړۍ د شیعه مذهبو مسلمانانو د تقلید مرجع (مجتهد) دې په کال د 1310 هـ.ش زیږیدلی دی. محترم پلار یې حضرت آیت الله فاضل لنکراني نه یواځې عالم بلکه د قم د علمي حوزې د مشرانو او استاذانو څخه ؤ. هغه لوې آغا د قفقاز د مهاجرانو څخه ؤ چې کالونه کالونه د مشهد په علمي حوزه او د زنجان په علمي حوزه کې په تحصیل او درس (سبق) ورکولو لګیاؤ پس له یو کال چې د قم علمي حوزه د حضرت آیت الله حاج شیخ عبدالکریم حائري رحمة الله علیه په واسطه جوړ شو دې د قم په حوزه کې داخل شو.په هغه اول سرکې د یو اصیل خاندان سره دوستۍ (ازدواج) وکړل چې د دغه ازدواجه څخه نیک نامه اولاده په وجود راغلل چې په دغه ډول زمونږ دوست استاذ حضرت آیت الله حاج شیخ محمد فاضل موحدي لنکراني چې څلورم او یواځې روحانی ځوې د دې خاندان (کورنۍ) په حساب راځي د علم او تقوی په کورنۍ کې وزیږیدل.

استاذ په هغه کوچنیوالی کالوکې د خپل پلار د معنویت لاره انتخاب کړه نو تصمیم یې ونیول چې د خپل پلار د معنوي ژوند په ډول د روحانیت وخواته ولاړشي. پس له دې چې ابتدایي (لومړنۍ) تحصیل یې تمام کړو او د خپل د تحصیلاتو په لارکې ډیر کامیابه وو او ډیر لیاقت یې هم درلود په یوه پلا د دې تحصیله څخه سترګې پټې کړې او د دیني علومو وخواته ولاړ.په هغه زمانه کې چې 13 کاله یې درلود او ډیر شوق او علاقه یې د دیني علومو سره لره یو بل سبب هم د ده په ژوندکې پیدا شو چې هغه د ابتدایي تحصیلاتو د دورې ډیر عزیز دوست مرحوم آیت الله حاج سید مصطفی خمیني د حضرت امام خمیني (قدس سره ) مشر ځوی وو چې د ده په څنګ کې قرار ونیول او د دوي څخه دوه وفاداره او مشفقه رفیقان جوړ کړل. او د استاذ په قول: د دغه دوست پیدا ایښت ډیر مهم نقش یې دا ؤ چې مونږ دغه لارته ادامه ورکړو او د یو بل په مرسته په تحصیل لګیا (مشغول) شولو

د هغه ځایه څخه چې لاربنوونه او علاقه یې په دې لارکې ډیره وه په ډیر سرعت سره د ادبیات او سطح درس ي چې نور طلبی په 8-9 کاله تمامول دی په 6 کاله کې تمام کړل. او پوره 19 کلن وو چې د حوزوي تحصیلاتو په آخرنۍ مرحلې یعني (درس خارج) ته ورسید.

کله چې دغه 19 کلن ځوان د مرحوم حضرت آیت الله العظمی بروجردي په درس خارج کې چې ډیر دروند درس یې ؤ شرکت کاوو ویلا یې شو چې ځوان شاګرد د دې جلسې ؤ. او د دوې ځوان شخصیت ټول په ځان جلب کړي ؤ او ځینوکسانو داسې فکر کاوو چې دا درسونه نشي زده کولاې لیکن داسې نۀ وه هر درس چې استاذ یې په هغه ورځ ورکاوو دي به په عربي ژبه لیلکل. لکه چې یوه ورځ مرحوم آیت الله بروجردي د استاذ د پلار په کورکې هغه لیکل شوي درسونه یې ولیدل نو د آیت الله فاضل او پلارته

یي وویل هيڅ فکر مه کاوه چې دې په دي عمر په داسې ښه خصوصيات خپل درسونه په عربۍ ژبه ليکي.

په هغه کالوکې وه چې حضرت امام خميني (رحمة الله عليه) د اسلامي انقلاب ستر رهبر د (علم اصول) یوه دوره تدريس يي شروع کړل. چی ډير غوښتنونکي درلود او ډير طلبې په دوې باندې راټول شول چې يو يکې آيت الله فاضل موحدي لنکراني ؤ. سر بيره په دې چې د مرحوم آيت الله بروجردي په درسوکې شرکت کاوو په دې توګه يوه پورا دوره د اصول په 7 کاله د حضرت امام خميني(رحمة الله عليه) څخه زده کړل.

په دغه ډول حضرت امام خميني (رحمة الله عليه ) د اصول د درس په څنګ کې د فقه درس يي شروع کړل چې استاذ په هغه درسوکې هم شرکت کاوو او دا درسونه به يې په هوشيارۍ سره ليکل چي په آخرکې څو جلده کتاب ترې جوړ شو

پدې توګه استاذ خپل د ځوانۍ عمر په تحصيل او درس سره تيراؤ چې 11 کاله يي د مرحوم حضرت آيت الله بروجردي او 9 کاله د حضرت امام خمينی (رحمة الله عليه) د اصول او فقه په درس کې تير کړل او د دي حاصلولو څخه ډيرې ګټې واخيستل.

استاذ د فقه او اصول په څنګ کې څو کاله د حکمت او فلسفې په درسوکې تير کړل استاذ يي پدي ځانګه کې مرحوم علامه طباطبايي ؤ. او د ده په حضورکې څو کاله د سبزواري منظومه او د ملا صدرا د اسفار کتاب يي زده کړل.

او د دې ټولو په څنګ کی په عقيدتي او اخلاقي درسو کې شرکت کاوو او د نورو استاذانو څخه هم ګټه اخيستل.

استاذ ډيرزراو په سرعت سره د اجتهاد په درجه ورسيدل. پس له ډير تحصيلاتو څخه مخصوصاً 11 کاله د آيت الله بروجردي او 9کاله د حضرت امام خمينی (رحمة الله عليه) د انسان جوړونکي په مکتب کې پدې وخت کې 30 کلن ځوان ؤ چې په تقليد اړه نه درلود نو په دی لحاظ د حضرت آيت الله بروجردي د ژوندانه په وخت کې د ده څخه تقليد کاوو او پس له وفات د دغه لوې عالم د تشيع ديني او مذهبي مسايل او کارونه يي په خپل نظر کاوو.

يو ډير مهم شې د استاذ په ژوندانه کې داؤ چې د ځوانۍ په لومړنيو کالوکې درس زده کول او درس ورکول په موازي توګه د ده په ژوندکې جريان درلود.دی د دويم يا دريم کلو د تحصيل په وخت کې چې 15،16 کلن ؤ هم د مشرانو په محضر کې د درس د پاره حاضريدل او هم يي نورو طلبؤو ته درس ورکاوو.

د استاذ درس په هغه لومړنۍ وختو ډېر تود او په شوق سره ؤ او ډېر د علم او ایمان پیروان په دغه درسوکې حاضر ؤ. او مهم یې دا ؤ چې داسې کسان پدې درسوکې حاضریدل چې تر استاذ مشر وؤ کله چې چا لیدل چې استاذ داسې ځوان دې باور یې نۀ کیدل. او په باور نه ؤ چې دغه ځوان پوهاند وکولاې شي تر ځان مشر کسانوته درس او تعلیم ورکړي او هر هغه معنوی شئیان چې د ده په زړه کی ؤ ګته یې دوې ته ورسوي په هغه کالوکې چې 15-16 کلن ؤ شاګردان یې 70-80 کسه وو. کله چې19 کلن شو نو شاګردان یې په سلو سلو کسو ورسیدل او هغه وخت چې د کفایة الاصول کتاب یې درس ورکاوو 600-700 کسه د استاذ په درس کی ناست ؤ او دغه درسونه په کاستو باندې ټیپیدل چې تر اوسه پورې هم د کفایې د درس ځوان طلبې ګټه ترې اخلی. استاذ 25 کاله کیږی چی د (خارج) درس ورکوی او ډیر عالمان چې دوي په خپله د تحقیق او لیکنې خاوندان دي د استاذ د خارج په درس کې شرکت کوي او ګټه ترې اخلی.

**د حضرت آیت الله العظمی سیاسی مبارزې**

د استاذ په ژوندانه کي یو مهم دوران سیاسي مبارزې دي. هغه وخت چي حضرت امام خمیني (رحمة الله علیه) خپل سیاسي او مذهبي مبارزې یي شروع کړې او د ظلم، فساد، او کفر په مقابل کې یي قیام وکړل استاذ هم د خپل لوې معلم څخه پیروي وکړه او سیاسي مبارزې یي شروع کړی او د حضرت امام خمیني (رحمة الله علیه) د سرسختو شاګردانو څخه ؤ.

او ګام په ګام د امام شاته روان ؤ. دا مبارزي هم په یواځنی توګه او هم د علمي حوزې د مدرسینو د جامعې د غړي په توګه چی په هغه وخت کې ډیر فعاله وو کیدل. په هغه اول سرکې اتفاق او یووالی د اسلامی انقلاب د بریالي توب مهمه مسئله وه چې د استاذ په مبارزاتو کی اساسي نقش لرلو.

استاذ د دغه تبعیده څخه ښه ګټه وکړه سر بیره پر لیکنې او علمي کارو د خلقو سره رابطه درلود او دوي یي د حضرت امام (رحمة الله علیه) د مبارزې په لاره کې روښانه او ویښ کړل. په دی ډول چې د انقلاب په ورځو کې د یزد خلق په مبارزې او شهید ورکو لوکې لومړنۍ کسان وؤ چې په خالی لاس سره د تانګ – توپ او مرمی و جنګ ته ولاړوو او په ورکوولو د ډیر شهیدانو، په دلاورۍ سره پدې لارکې ودریدل. او د انقلاب د کامیابۍ لپاره یي لوي ګامونه واخیستل.

د تبعید دوره تمامه شوه څرنګه چې د کفر او ظلم دوره هم تمام شوه. بدې او بیري لاړه پاکې او آزادي راغله د کفر تورتیاره ورکه شوه او د اسلام روښانه لمر د وریځو د شا څخه پیدا شوه دغه لمر چې په ټوله نړۍ زړه وړونکي روشنایي ورکوي. او مونږ نن د دغه لمر د روشنایي څخه ګټه اخلو او د دې په ایسته به هم دغه روشنایي به پیدا کړي. او باید هیر نه کړو چې استاذ غوندې مشران ؤ چې ورځ یي د

لمر د مخه څخه ایسته کړل او ډیر لویه برخه بې درلودل.

**د تاریخ په مختلفو وختو کې د امام خمینی (رحمة الله علیه) سره ملاتړ**

استاذ د امام خمیني (رحمة الله علیه) د نهضت د لومړنۍ مرحلې څخه تر کامیابي د انقلابه پوري په مشروالېۍ د هغه لوي شخص د معاصر تاریخ په هر ځاي او هر حال کی ملاتړې بې کاوو او هیڅ کله خپل لاربنود یې نه هیراوو او هر څو مره چې د لاسه یې کیدل مرسته یې ورسره کاوله. د حضرت امام خمیني (رحمة الله علیه) ملاتړ پس له انقلابه یو آسان کاروؤ لیکن هنر دا ؤ چې انقلاب نه مخکې دغه ملاتړ ورسره کیدلې.ډیرې سختې ورځې د پهلوي په دوران کې د نهضت په یارانو باندې راغله لیکن آیت الله فاضل نه یواځې ضعیف نه شو بلکه په ډیر قدرت سره د نهضت او لاربنود څخه یې دفاع کاوله

**د حضرت ایت الله ځینې لیکلي شوي کتابونه**

1- نهایة التقریرفی مباحث الصلوة (په مقدمات)

2- نهایة التقریر فی مباحث الصلوة (الجزء الاول)

3- نهایة التقریر فی مباحث الصلوة (الجزء الثانی)

دغه درې اثر د استاذ لومړنۍ تألیف دي چې استاذ اته کاله د مرحوم آیت الله بروجردي (قدس سره) د خارج په درسوکې شرکت درلود. معظم له دغه بخت هم لرلو چې خپل د تقریراتو مجموعې د تقریر د خاوند د مبارک نظر څخه تیر کړې او د دوې په موافقت او اجازه کارته ترتیب او نظم ورکړې.

4 – تفصیل الشریعه فی شرح کتاب د تحریر الوسیله (کتاب الاجتهاد): دغه ګران او ارزشمند اثر لومړنۍ جلد د تحریر الوسیلې د شرحې دي چې د استاذ په واسطه د دغه کتاب تحقیق او پلټنه د اجتهاد مبحث په عالمانه ډول سره تفسیر او بیان شویدي او د اجتهاد او تفسیر د نظره څخه سندونه مربوطه په هغه دقیق او په ژور نظر سره لیکل شویدي.

5- تفصیل الشریعه فی شرح کتاب تحریر الوسیله (کتاب الطهاره والمیاه): دغه کتاب د (طهارت) د فصله څخه شروع شویدي چې مربوط په مختلفو مسئلو د اوبو بیان او د نجاست (ناپاکي) د مسئلو په بیان سره پاي ته رسیدلې دې.دغه کتاب هم لکه د مخه کتاب د تبعید په دوران کې لیکل شویدې.

6 - تفصيل الشريعه فی شرح کتاب تحرير الوسيله (کتاب احکام الوضوء والتخلی)

7 - تفصيل الشريعه فی شرح کتاب تحرير الوسيله (کتاب النجاسات)

8 - تبيان الاصول

9 - الاحکام الواضحه

10 - د توضيح المسايل رساله

11. الحواشی علي العروة الوثقی

12. مدخل التفسير: دغه ارزشتمند کتاب د قرآن پر تفسير يوه مقدمه ده چې د قرآن د معجزو په حقله، د قرآن قرائتونه، د قرآن د تفسير اصول او د هغه د بې تغيير په حقله ليکل شويدي

WWW.AL-SHIA.ORG